رښتین ۲۰۰۸/۱۱/۱۲م



# په مسلمانانو کې پولې او دملایانو په جامه کې دشیطانانوشتون

قدرمنو لوستونکو!
په پښتونخوا ایالت کې د جمعیت علماء الاســلام مولانا فضل الرحمان د ګوند صوبایي مشر او سناتور مولانا ګل نصیب ځرګندونو زه دې ته اړ ایستم چي ستاسودخبرتیا او قضاوت لپاره دالیکنه افغان ویبپاڼو ته ورولېږم هغه په پېښورکي یوخبري کنفرانس ته وویل چې، د پاچاخان فاونډېشن دکرک، لکي مروت اوبنوپه ښــوونځیو کې دپاکستان دملي سرودپرځای دلوی پښتونستان ترانې وايي، چي دا کار یې دپاکستان د تجزیې دپاره هڅي او یو خطرناك سازش دئ.

عـــزیــــزانــــو!
هیله من یم چي، دپورتنیو ځرګندونو له مخي مو دا روزل شوی دالخور او دلوی افغانســتان غلیم پېژندلی وي مولانا ګل نصیب خیل ځان او دخپل اســلام پلورونکي غلام ګوند ځېره تولي نرۍ ته په ځرګند ډول وښوده اوس نوهر لوستی او نالوستی پوهیږي چي د جمعیت علماء الاســلام ګوند دچا لخوا، دکومو موخو، د چا دګټولپاره جوړشوی، دچا لپاره تبلغ کوي او دچا تلي ښتي څه موده مخکي دهمدې ګوند مشر افغـــان دښمن (مولانا فضل الرحمان) په بې مسؤلیتي او نامردي سره ووېل چي افغان دولت دې دړېورن کرښه د رسمي پولې په څېر وپېژني.

ګرانو خویندو او ورونـــــو!
دا په پردیوالو او وریځو پرسپدلي ملایان هم ځانونه پښــتانه او هم مسلمانان بولي په داسي حال کي چي ښه خبر دي چي دمسمانانوترمینځ باید پولي وجود ونه لري خودمګرۍ دیولړ ځانګړو زماني ستونځوله وجي زموږ مسلمان ورونه په خپلو مینځو کي پولي لري، هېوادونه یې دخپلو تاریخي ارزښتونو پر بنا په ځانګړونومونو یادیږي او ډول ډول اداري سیستمونه پکي حاکـــم دي خو اوس به راشو داسي سیموته کومي چي دیوډېرلیرۍ پروت ښکېلا کګر هېواد د دوښمني او غچ اخیستلوله وجي ټوټه ټوټه شوي دي لکه زموږ سیمي چي انګرېزانو په بې رحمي سره بېلي، حتی زموږ دیوي ویني، ژبي او یوکولتور لرونکي پښتون قام له ملا څخه یې تور ښامار ورتاو کړ د دې ښامار دبقا لپاره یې داسي توري نقشي عملي کړي چې، دای .ایس . ای د زېږولو ترڅنګ یې په کوزه پښتونخواکي زموږ ددین او ولـس دتباهي او سپکاوي لپاره هسې په نوم دیني مدرسي ودانې او د یوشمېر جاهلوملایانوپه روزنه یې نن ورځ دا ټوله نړۍ دوېرې او وحشت په فضأ ورنښسته، دملایانوپه جامو کې یې د کورمغزه فضل الرحمان په څېر شیطانان رامینځ ته کړل، د دیني چاروترڅنګ یې دسیاست تعویضونه هم غاړې ته ورواچول اوس هم په پارلمان کې حلواوې وهي او هم په جماعتونوکي وریځې پورته کوي په دې خو لا قناعت نه کوي راځي راځي


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

دخواره کي پښتون په دا۱۱۵ کلن زخمي تېرمالګي ور شيندي کله عوامي نيشنل ګوند ته توطيې جوړوي او کله وايي چي له پاکستان څخه اخواځانمرګي بريدونه روادي خو زه باورلرم چي حالات که هر څومره د وحشت په خوا ور روان دي خو دا تور مخي به ماتېږي لر او بر به خامخا سره يو کيږي او داسلام مقدس دين به له دي تور مخو څخه خلاصون پيدا کوي .

باید زیاته کړم چي، انګريزانو زموږ دهېواد دخپلواکی اتل غازي امان الله خان هم په همدې تورمخو راوپرځاوه ديو سرلوړي او لوی افغانستان په هيله

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de